روشن
ROSHAN

Nazdik Shodan

رسنیزه خبرتیا

د روشن مخابراتي شرکت د "روشن میلیونر" وړاندیز د لومړي پراو د یو میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانیو جایزی ګټونکی اعلان کړ.

د کب ۱۲مه، ۱۳۹۵ (کابل، افغانستان): روشن، د هیواد مخکښ مخابراتي شرکت، نن د "روشن میلیونر" وړاندیز د لومړي پراو د یو میلیون افغانیو جایزی ګټونکی اعلان کړ.

د میدان وردک ولایت اوسیدونکي ښاغلي رسول داد د یو میلیون افغانیو جایزه وروسته له هغی ترلاسه کړه چی شمیره یی د یوی رنی پچه اچونی له لاری چی د مخابراتي خدمتونو تنظیم کوونکي اداری(اترا) استازي پکی شتون درلود، ګټونکی اعلان شوه.
ښاغلي رسول داد د خپلی بریا کیسه په داسی توګه بیان کړه:" ما هیڅ باور نشو کولای، کله چی له ما سره د روشن شرکت د پیرودونکو خدمتونو شمیری لخوا اړیکه ونیول شوه او راته وویل شول چی ګټونکی یم." هغه زیاته کړه:" د روشن د پیرودونکو خدمتونو استازي راته وویل چی د هویت د تثبیت لپاره د روشن نږدی نماینده ګی ته مراجعه وکړم، پداسی حال کی چی ملګرو می راته ویل چی زما ګټل ناشوني دي او د روشن نماینده ګی ته ورتګ بی ګټی دی. خو روشن زما د اعتماد وړ شرکت دی، هغه شرکت چی زما خوبونه یي په واقعیت بدل کړل."

" د روشن میلیونر" یو بی ساری وړاندیز دی چی د لومړي ځل لپاره د روشن مخابراتي شرکت لخوا په لاره واچول شو. د روشن ټول پیرودونکي د ۸۰ افغانیو او له هغه څخه ډیر کریډیټ په اضافه کولو سره په اتوماته توګه په پچه اچونه کی شاملیږي او د ۵۰۰۰۰ افغانیو اونیزی جایزی او یو میلیون (۱۰۰۰۰۰۰) افغانیو لوی جایزی ګټلو چانس ترلاسه کوي.

د روشن مخابراتي شرکت عملیاتي رئیسی آغلی شیرین رحمانی د خپلو خبرو په ترڅ کی وویل:"مونږ دغه وړاندیز د دی لپاره په لاره واچوه چی زمونږ پیرودونکی زمونږ د سوداګری څخه لاډیر مستفید شي." هغی همدارنګه اضافه کړه:" مونږ ویاړو چی " د روشن میلیونر" نوښتګر وړاندیز د نورو خصوصي شرکتونو لپاره یوه نمونه شوه تر څو هغوی هم پداسی سختو شرایط کی د افغانانو سره د مرستی لپاره همداسی وړاندیزونه په لاره واچوي."

د "روشن میلیونر" وړاندیز لومړني پراو د اونیزی جایزی ګټونکي د کابل، هرات، میدان وردک، بادغیس، فراه، تخار او کندوز ولایتونو څخه وو.

د "روشن میلیونر" وړاندیز لومړی پراو د روان کال د لړم په میاشت کی په لاره واچول شو او د سلواغی د ۱۲مې نیټی پورې یی ادامه درلوده. د دی وړاندیز دوهم پراو د ۱۳۹۵ د کب په ۱۲مه نیټه پیل شو او د ۱۳۹۶ کال د غبرګولي تر ۱۰مې نیټی پورې به ادامه لري. د لومړي دور په ځیر په دی دور کی هم په هیواد کی سرتاسره د روشن ټول پیرودونکي کولای شي چی د ۸۰ افغانیو او یا له هغی څخه ډیر کریډیټ کارت په ډیرولو سره د ۵۰۰۰۰ افغانیو اونیزی جایزو ګټلو چانس ترلاسه کوی. خو دا ځل د دی وړاندیز لویه جایزه لا ډیره شوی او یو نیم میلیون (۱۵۰۰۰۰۰) افغانیو ته لوړه شوی ده.

د روشن په اړه
روشن (دافغانستان دمخابراتو د پراختیا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنی ده چی تر ۶.۵ میلونو څخه ډیر فعاله پیرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چی د هیواد په ۳۴ ولایتونو کي د ۲۸۷ څخه ډیري ولسوالی او ښارونه یي د پوښښ لاندي راوستي دي.

روشن د افغانستان د بریاو بنه نمونه ده چې د هیواد په پرمختګ کې فعاله ونډه لري. په ۱۳۸۲ کال کې د فعالیت پیلولو څخه تر دې دمه یې په افغانستان کې ۷۰۰ میلونه ډالره پانګه اچونه کړې ده او د هیواد تر ټولو لویه پانګه اچوونکې او مالیه ورکوونکې کمپنۍ ده چې د افغانستان د کلنې داخلې عوایدو تقریبا ۶ سلنه برابروي. روشن په مستقیمه توګه د ۷۰۰ په شاوخوا کې کارکوونکي لري چې دهغو له جملې څخه ۱۹ سلنه یې ښځې دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته یې په غیر مستقیمه توګه د کار آسانتیا برابره کړې ده.

روشن د افغانستان بیارغونې او پرمختګ ته هراړخیزه ژمنتیا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سپما (AKFED)، چې د آقا خان د پرمختیایي شبکې(AKDN) یوه برخه ده، د روشن تر ټولو ډیر پانګه اچوونکي دي چې په وروسته پاتې هیوادونو کې د اقتصادي زیربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروشن یو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټیلیکام انټرنیشنل (MTI) او تیلیا له خوا تر سره شوې. روشن افغانستان ته نړیوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکیفیته شبکې چمتو کولو ته ژمن دي.

د روشن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af یا http://www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شئ مونږ د ټویټر له لارې @roshanconnects تعقیب کړئ.

د روشن سره د اړیکې لپاره
شفیع شریفی
ایمیل: shafi.sharifi@roshan.af
ټلیفون: 0093799999065